سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۸/۲٦

# جنت دی

(اجمل ختک)

د وطن کلی دی، که ښار، جنت دی

که یی سارا ده، که ګلزار جنت دی

***

هغه دنګ غرونه او د غرو ځنګلونه

ښکلـي دري او د درو باغونه

هغه له سپینو واورو ډک خوړونه

هغه له واورو را روان سیندونه

د ګران وطن ماښام سهار جنت دی

که یی سـارا ده که ګلـزار جنت دی

***

هغه له ختو ګټو جوړ کورونه

هغه له پت او حیا ډک سرونه

هغه د ننګ شملی د ننګ زړوکی

هغه سینو کی جوړ له مینی زړونه

د زړونو منځ کی اعتبار جنت دی

د وطن کلی دی که ښار جنت دی

***



ارسال مقالات:info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

خو نن دی ولس او په دی غرونو باندی
په دی ځنګلونو دی باغونو باندی
یو بل پردی حـکمرانی چلوی
لـوړو مـورچـو او سـنـګرونو باندی
اوس دا جنت تر ټولو خوار جنت دی
له هر جنت ځـني بیــکار جنت دی
***
چی یی بیواکه، نو زندان دی جنت
لـکه زمـونږه کلی، وران دی جنت
چی آزادۍ نه وی، اختیـار نه وی
بیانو دوزخ سره یو شان دی جنت
« په خپل وطن کی خپل اختیار جنت دی
که دار وی دار که نار وی نار جنت دی»
***
مونږ ته نیکونو په سرو وینو باندی
یوه پیړی مخکی آزاد کړو وطن
خو! تر آزادی وروسته یو څو غدارو
تبـاه تبـاه برباد برباد کړو وطن
نن د دوزخ په څیر، آزار جنت دی
په جـنتو کی، یو بیمار جنت دی
***
شـه مُبارک مـو، پـرونی آزادی
یـمـه شـکمن، په نـنـنـی آزادی

که وی همــدا حال، نو باور لرمه

تر لاس به نکړو، پخوانۍ آزادی

جنت وطن نه به دوزخ جوړیږی

لکه غزني اور کی به ټول سوزیږی.

اګست/۱۶/۲۰۱۸

تورنتو ـ کاناډا